# SMITTSKYDDSBLAD

## Patientinformation

**Tuberkulos**

Översättning till pashto

Version 2022-04-11

# نرى رنځ، د ناروغ لپاره معلومات

**د انتان نه د خوندي پاتې کیدو لپاره د ډاکټرانو معلوماتی پاڼه**

**تاسې ته ولې دا معلومات درکول کیږي؟**

تاسې یا په نري رنځ اخته یاست او یا هم په تاسې د نري رنځ د اخته کیدو شک کیږي او درملنې ته اړتیا لرئ. په دې معلوماتي پاڼه کې د نري رنځ، د هغې نه د ژغیدو او دا چې تاسې باید څه وکړئ، په هکله معلومات شتون لري.

**نرى رنځ څه شی دی؟**

نرى رنځ (د TBC یا TB په نوم هم پیژندل کیږي) یوه ساري ناروغي ده چې د یوې باکتریا مایکوباکټریوم توبرکلوز له امله رامینځته کیږي. دا ناروغي تل د سږو د التهاب لامل کیږي، خو سربېره له دې د وجود نور غړي هم تر اغیزې لاندې راوستی شي لکه لیمفاوي غده، د سږو کڅوړه، سکلیټ، مغزه یا سږي. ددې ناروغۍ علایم له ناروغۍ څخه ډېر وروسته پورې په وجود کې ښکاره کیږي شاید چې تر (میاشتو یا کال) پورې. په ماشومانو او هغه وګړي چې د مدافعی قوه یې ښه نه وي دا ناروغي په چټکۍ سره رشد کوي او کله کله ډېره جدي شي.

**نرى رنځ څرنګه بل کس ته خپریږي کیږي؟**

دا ناروغي له هغه کسی څخه بل ته اوړي چې نرى رنځ یې په سږو کې وي. کله چې دا ناروغ په یو بند ځای کې وټوخیږي نو ددې ناروغۍ باکتریا په هوا کې خپره شي او هغه کس چې دې ناروغ سره په دغه بند ځای کې ناست وي د باکتریا دا واړه واړه څاڅکي تنفس کړي. نرى رنځ تل له ناروغ سره له نیږدې یا اوږد مهاله اړیکي څخه بل ته خپریږي. نو ځکه هغه کسان چې له ناروغ سره په یوه کور کې ژوند کوي، تل په دې ناروغۍ اخته کیږي. مور او پلار کولی شي خپل ماشومان او حتی خپل نیږدې دوستان هم ناروغ کړي. دا ډېره عادي خبره نده چې هغه کسان چې له داسې ناروغ سره لنډه او کله کله لیدنه کوي او په دې ناروغۍ اخته شي لکه په ښوونځي یا د کار په ځای کې د لیدو له لامله.

**دا به څرنګه ښکاري چې یو کس په نري رنځ اخته دی؟**

د نري رنځ معلوماتی نښې څه په دې ډول دي، د وزن کمیدل، ټوخی چې له دریو اونیو ډېر دوام وکړي، د شپې له اړخه خوله کول او تبه. د علایمو ټوله اړه دې پورې وي چې د نري رنځ باکتریا د وجود په کومه برخه کې شتون لري. د نري رنځ نورې نښې څه په دې ډول دي، پړسوب (که چیرې نرى رنځ په غدوو) کې وي یا درد (که چیرې نرى رنځ په سکلیټ یا خېټه) کې وي. د نري رنځ علایم دې ته په لیدو سره چې ناروغي څومره اوږده وه، کس تر کس پورې فرق کوي، د ځیني ناروغان هیڅ علایم نلري او د ځینو علایم ډېر جدي وي.

**نرى رنځ څومره ساري دی؟**

هغه ناروغان چې د سږو نرى رنځ لري، چې د ټوخي په معایناتو کې یې باکتریا موندل شوي وي، دا ډول ناروغان د تداوۍ د پیلېدو وړاندې ډېر زیات ساري وي. ددې ناروغۍ ساري توب د تداوۍ په لومړیو اونیو کې ډېر کمیږي. هغه ناروغان چې دا ناروغي یې سږو کې نه وي ساري ندي. هغه واړه ماشومان چې په نري رنځ اخته وي، ساري ندي. نرى رنځ له کالیو او شیانو له لارې نه خپریږي. دا ناروغي ډېر کله کله په ازاده هوا کې بل ته لګیږي.

**آیا د نري رنځ ناروغي خطرناکه وي؟**

که چیرې د نري رنځ درملنه تر سره نشي نو دا باکتریا په وجود کې خپریږي او د وجود نور غړي هم د اغیزې لاندې راولي. که چیرې د نري رنځ درملنه ونشي نو دا د خطرناکو زیانونو لامل کیدای شي او ځیني وخت د انسان ژوند هم اخیستی شي. واړه ماشومان او هغه وګړي چې د مدافعت قوت یې کمزوري وي د نري رنځ له کبله جدي ناروغه کیدای شي.

**د نري رنځ درملنه څرنګه ترسره کیږي؟**
د نري رنځ درملنه په داسي درمل سره تر سره کیږي چي دا باکتریا چي د ناروغی لامل دی، وژني. دا درملنه اوږد مهاله ده او څو میاشتي نیسي. دا ډېره اړینه ده چي د ډاکټر لارښود سره سم دا درمل وخوړل شي. ځیني درمل داسي دي چي باید په تشه خېټه وخوړل شي (تل له سهار چاې څخه یو ساعت مخکي) دا هم ډېره اړینه ده چي د درملني پر مهال د کومي ګولی خوړل درڅخه پاتي نشي. خپل د ډاکټر لارښود پسي لاړ شئ. که چیرې درملنه په دوامداره توګه ونشي نو دا باکتریا مقاومت پیدا کوي، او ددې ناروغتیا درملنه سختیږي. د نري رنځ درمل وړیا دي، او په همدې ډول ددې ناروغی په اړه نورې تعقیبي لیدني هم ړیا دي.

**د ناروغی تعقیبول – څه معنی؟**
دا ډېره اړینه ده چي په نري رنځ اخته ناروغ باید ژر تر ژره تداوي شي، دا ځکه چي باید د وجود د زیان مخه ونیول شي (پورته یې ولولی)، او بل دا چي دا نوموړې باکتریا نورو ته خپره نشي. نو ځکه هغه څوک چي په نري رنځ اخته وي باید دا ووایي چي له چا سره یې یو ځاې ژوند کړې او یا یې ورسره نیږدې کتل کړي، تر څو معلومه شي چي له چا یې اخیستی او یا یې چاته خپور کړی. یو کس شاید چي په دې ناروغی اخته وي خو علایم ونلري.

**نری رنځ د ساري ناروغیو په قانون کي شامل دی - دا څه معنی؟**
کله چي په تاسي کي د نري رنځ تشخیص وشي نو تاسي باید داسي ژوند وکړئ چي تر څو دا ناروغي بل ته لاړه نشي.

که چیرې تاسي په نري رنځ اخته یاست او یا د نري رنځ شک دربانديې شوي وي، **نو هغه قوانین چي د ډاکټر له لورې تاسي ته توصیه کیږي باید مراعت کړئ.**

- که چیرې تاسي په ساري نري رنځ اخته یاست
  - باید چي د یو وخت لپاره په روغتون کي د درملني لاندي پاتي شئ
  - تاسي نشئ ګولی چي دندې، ښوونځي یا د بیکاره وخت فعالیتونو ته لاړ شئ تر څو چي درملني ستاسي ناروغي له سرایت څخه نه وي ویستلي، او ستاسي ډاکټر دا خبر نه وي درکړي چي تاسي وس بل ته خطر نه یاست.
- که چیرې مو ډاکټر ووایي چي تاسي به بیا راځئ، نو تاسي به خپل ډاکټر ته په ټاکلي وخت بیا راځئ.
- که تاسي چیرې کډه کوئ نو ددې خبر باید خپل ډاکټر ته ورکړئ.
- تاسي باید د ناروغی په تعقیبولو کي مرسته وکړئ.

که تاسي ته چیرې د مراعتولو قوانین غلط درسیدلی وي نو په خپله ساحه کي د انتان نه د خوندي پاتي کیدو ډاکټرانو سره اړیکه ټینګه کړئ.

**آیا غواړئ چي نور معلومات ترلاسه کړئ؟**
در نري رنځ په اړه نور معلومات په www.1177.se او www.folkhalsomyndighete.se پاڼو کي موجود دي.

**اړیکو معلومات (Kontaktuppgifter)**

د صحی مرکز نوم *(Namn på mottagningen)* ……………………………………………………………

تاسي له لاندینی ډاکټر سره ولیدل *(Du har träffat)*

ډاکټر *(Läkare)* ……………………………………………………………………

نرسه *(Sjuksköterska)* ……………………………………………………………………

د ټلیفون شمیره/صحی مرکز کي د ټلیفون وخت *(Telefonnummer/telefontid till mottagningen)*

……………………………………………………………………